# کله چې تاسو سرطان ولرئ د ګټو ادعا کول: پښتو
# Claiming benefits when you have cancer: Pashto

دغه معلومات د سرطان لرلو پر مهال د ګټو غوښتنې په هکله دي.

که چیری تاسو د دې معلوماتو په اړه څه پوښتنې لرئ، په کوم روغتون کې چې ستاسو درملنه کیږي هلته د خپل ډاکټر یا نرس څخه پوښتنه وکړئ.

تاسو کولی شئ په وړیا تلیفون **0808 808 00 00** باندې په اونۍ کې 7 ورځې، د سهار له 8 بجو څخه تر ماښام 8 بجو پورې د مکمیلن سرطان ملاتړ ته زنګ ووهئ (Macmillan Cancer Support). موږ ژباړونکي لرو، نو تاسو کولی شئ چې زموږ سره په خپله ژبه کې خبرې وکړئ. کله چې تاسو موږ ته زنګ ووهئ، مهرباني وکړئ موږ ته په انګلیسي کې ووایاست چې تاسو کومې ژبې ته اړتیا لرئ.

دلته macmillan.org.uk/translations د سرطان په اړه ستاسو په ژبه او نورو ژبو کې ډېر معلومات موجود دي.

دا معلومات د دې په اړه دي:

- ګټې څه ته وایې؟
- که تاسو په بریتانیا کې زیږیدلی نه وئ
- که تاسو مراقبت یا د خوځښت اړتیاوې لرئ
- که تاسو نشئ کولای کار وکړئ یا مو عاید کم وي
- که تاسو د سرطان لرونکي کس څخه مراقبت کوئ
- د هستوګنې له لګښتونو سره مرسته
- که تاسو د تقاعد په عمر کې یاست
- بیا به څه کوئ
- د خپل ځان لپاره مناسب پاملرنه او ملاتړ ترلاسه کول
- مکمیلن (Macmillan) له تاسې سره څرنګه مرسته کولی شي
- ستاسې په ژبه کې نور معلومات
- مأخذونه او مننې

## ګټې څه ته وايي؟

ګټې د حکومت له خوا د هغو خلکو لپاره مالي مرستې دي چې د خپل ژوند په لګښتونو کې مرستې ته اړتیا لري. کله چې تاسو سرطان لرئ، تاسو ښايي وکولای شئ ګټې ترلاسه کړئ که چېرې:

- تاسو ناروغ یاست
- معلولیت لرئ
- عاید مو ټیټ وي
- له کوم کس څخه مراقبت کوئ.

بېلابېلې ګټې شتون لري. په دې پاڼه کې موږ ځینې مروج موارد توضیح کوو.

## که تاسو په بریتانیا کې زیږیدلی نه وئ

تاسو ښايي ونشئ کولای ځینې ګټې ترلاسه کړئ که چېرې تاسو:

- له بل هېواد څخه بریتانیا ته کار کولو یا ژوند کولو لپاره راغلي یاست
- هغه څوک چې پناه غواړي.

په قوانینو پوهاوی ستونزمن دی او په دې پورې اړه لري چې تاسو او ستاسو کورنۍ په کوم هېواد پورې اړه لرئ. تاسو کولای شئ له مکمیلن (Macmillan) سره په 0808 808 00 00 شمېره اړیکه ټینګه کړی او د مشورې لپاره د هوساینې د حقونو له کوم مشاور سره خبرې وکړئ.

## که تاسو مراقبت یا د خوځښت اړتیاوې لرئ

هغه ګټې چې تاسو یې ادعا کولی شئ توپیر لري د دې پورې اړه لري چې تاسو چیرته ژوند کوئ او ایا تاسو د دولتي تقاعد عمر څخه پورته یا شکته یاست. دغه عمر په دې پورې اړه لري چې تاسو کله زیږېدلي یاست. تاسو کولای شئ د ایالتي د تقاعد لپاره خپل عمر په gov.uk/state-pension-age کې موندلی شئ

### د هغو خلکو لپاره چې په انګلستان، ویلز یا شمالي ایرلینډ کې ژوند کوي:

- **د شخصي خپلواکۍ تادیه** د هغو خلکو لپاره ده چې د دولتي تقاعد عمر څخه کم وي او د ورځني کارونو، ګرځېدو، یا دواړو سره ستونزې لري. ستونزې د اوږدمهاله روغتیايي ستونزو یا معلولیت له امله دي.
- **د حاضرۍ امتیاز** د هغو خلکو لپاره دی چې د دولتي تقاعد عمر لري یا له هغه څخه پورته وي او د ناروغۍ یا معلولیت له امله شخصي پاملرنې ته اړتیا لري.

## د سکاټلینډ اوسیدونکو لپاره:

- **د لویانو د معلولیت پیسې** د هغو خلکو لپاره دي چې د دولتي تقاعد عمر څخه کم وي او د ورځني کارونو، ګرځېدو، یا دواړو سره ستونزې لري. ستونزې د اوږدمهاله روغتیایي ستونزو یا معلولیت له امله دي.
- **د تقاعد عمر معلولیت تادیه** د هغو خلکو لپاره ده چې د دولتي تقاعد عمر یا له هغه څخه پورته وي او د ناروغۍ یا معلولیت له امله شخصي پاملرنې ته اړتیا لري.

که چیرې سرطان درملنه نشي کېدای، تاسو ممکن د ځانګړو قوانینو لاندې د دې ګټو لپاره غوښتنه وکړئ. دغه قوانین په دې مانا دی چې تاسو به دغه ګټې په چټکه او لوړه کچه ترلاسه کړئ. ستاسو ډاکټر یا نرس کولای شي په دې برخه کې له تاسو سره مرسته وکړي.

## که تاسو نشئ کولای کار وکړئ یا مو عاید کم وي

- **د ناروغۍ قانوني تادیه** د هغو خلکو لپاره ده چې اړتیا لري د ناروغۍ له امله خپل کار ته لاړ نه شي. که تاسو د دې لپاره په شرایطو برابر یاست، ستاسو ګومارونکی به دغه تادیه هره اونۍ تاسو ته درکوي. دغه مرسته به ستاسو د ناروغۍ تر 28 اونیو پورې تاسو ته درکول کېږي.
- **د کارموندنې او ملاتړ مرسته** د هغو خلکو لپاره ده چې د ایالت د تقاعد عمر یې نه وي پوره کړی او داسې ناروغي یا معلولیت ولري چې د هغوی په کاري وړتیا وو باندې اغېز کوي. تاسو ښایي هغه مهال له دې ګټې برخمن شئ چې کار نه شئ کولی او یا کم کار وکولی شئ.
- که تاسو ډېرې پیسې نه ګټئ یا نشئ کولای کار وکړئ، تاسو ښایي وکولای شئ Universal Credit ترلاسه کړئ. دا به په دې پورې اړه ولري چې تاسو چېرې اوسېږئ. د درخواست کولو طریقه په دې پورې اړه لري چې تاسو چېرې اوسېږئ. که په انګلستان، سکاټلنډ او ویلز کې اوسېږئ، د gov.uk/universal-credit وګورئ. که په شمالي ایرلنډ کې اوسېږئ، د nidirect.gov.uk/universal-credit وګورئ.

## که تاسو د سرطان لرونکي کس څخه مراقبت کوئ

که تاسو د داسې یو چا ساتنه کوئ چې ډېرې پاملرنې ته اړتیا لري، تاسو ممکن لاندې ګټې ترلاسه کړئ:

- **د پاملرنې ګټې** که تاسو په **انګلستان، ویلز یا شمالي ایرلینډ** کې ژوند **کوئ.**
- **د پاملرنې ملاتړ تادیه** که تاسو په **سکاټلینډ** کې اوسیږئ.

تاسو باید 16 کلن یا لوړ اوسئ. تاسو باید له یاد شخص څخه په اونۍ کې لږ تر لږه 35 ساعته مراقبت وکړئ. تاسو باید له هغوی سره تړاو ونلرئ یا ژوند ورسره ونکړئ. تاسو ممکن دا ګټه ترلاسه کړی حتی که تاسو یو څه معاش لرونکی کار هم وکړئ.

**د 3 مخ د 15 څخه** د مکمیلن (Macmillan) د حقیقت پاڼه 2025: کله چې تاسو سرطان ولرئ د ګټو ادعا کول

- **د پاملرنې پیسې**. دا تاسو ته هیڅ پیسې نه درکوي. اما له تاسو سره مرسته کوي چې په راتلونکې کې د دولتي تقاعد په تړاو ستاسو حقونه خوندي کړي. د دې مرستې د ترلاسه کولو لپاره تاسو باید لږ تر لږه له یوه کس څخه په اونۍ یا ډېره موده کې د 20 ساعتونو لپاره مراقبت وکړئ.

## د هستوګنې له لګښتونو سره مرسته

- که تاسو Universal Credit ترلاسه کولی شئ نو تاسو ممکن د خپل کرایې یا د کور د نورو لګښتونو لپاره پیسې ترلاسه کړئ.
- که تاسو لږ عاید لرئ او د دولتي تقاعد عمر لرئ، نو **د استوګنې مرسته** کولی شي ستاسو د کرایې په ورکولو کې مرسته وکړي. دا ممکن ستاسو سره هم مرسته وکړي که تاسو په ملاتړ شوي، سرپناه لرونکي یا لنډمهاله کور کې ژوند کوئ.

## که تاسو د تقاعد په عمر کې یاست

- **دولتي تقاعد** هغه اونیزه تادیه ده، کله چې یوتاکلي عمر ته ورسېږئ، له حکومت څخه یې ترلاسه کولی شئ. دغه عمر په دې پورې اړه لري چې تاسو کله زیږېدلي یاست. تاسو کولای شئ د ایالتي د تقاعد لپاره خپل عمر په gov.uk/state-pension-age کې موندلی شئ
- **تقاعدي کریډېټ** د هغو کسانو لپاره دی چې حکومتي تقاعدي سن ته رسېدلي وي او ټیټ عاید ولري. دغه کریډېټ تاسو ته ستاسو د ایالتي تقاعد سربېره اضافه پیسې درکوي.

## بیا به څه کوئ

په دغه معلوماتو کې، موږ یوازې د ځینو هغو امتیازاتو په هکله خبرې وکړې چې موجود دي. دا ښه ده چې زموږ د یو سلاکار سره خبرې وکړئ ترڅو د ګټو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ. تاسو کولای شئ موږ ته په وړیا توګه په 0808 808 00 00 شمېره باندی زنګ ووهئ.

تاسو کولای شئ اضافي معلومات ترلاسه کړئ او د ګټو لپاره په آنلاین ډول درخواست وکړئ. مراجعه وکړئ:

- gov.uk **که په انګلستان، سکاټلنډ یا وېلز** کې اوسیږئ.
- socialsecurity.gov.scot **که تاسو په سکاټلېنډ** کې اوسیږئ.
- nidirect.gov.uk **که په شمالي ایرلنډ** کې اوسیږئ.

## د خپل ځان لپاره مناسب پاملرنه او ملاتړ ترلاسه کول

که تاسې سرطان لرئ او په انګلیسي ژبه کې خبرې نه کوئ، تاسو شايي اندېښنه ولرئ چې دا به ستاسو د سرطان په درملنه او پاملرنه باندې اغېز وکړي. مګر ستاسي د روغتیا پالنې ټیم باید تاسو ته داسې پاملرنه، ملاتړ او معلومات وړاندې کړي چې ستاسو اړتیاوې پوره کړي.

موږ پوهېږو چې ځينې وختونه خلک شايي د سم ملاتړ په تړلاسه کولو کې له اضافي ننګونو سره مخ شي. د مثال په توګه، که تاسو کار کوئ يا کورنۍ لرئ، تاسو ممکن د پيسو او ټرانسپورټ لګښتونو په اړه هم انديښنه ولرئ. دغه ټول شيان سټرېس رامنځ ته کوي او مبارزه ورسره سخته ده.

## مکميلن (Macmillan) له تاسې سره څرنګه مرسته کولی شي

په مکميلن (Macmillan) کې، موږ پوهېږو چې د سرطان تشخيص څنګه کولای شي په هر څه باندې اغېز وکړي، او موږ دلته ستاسو د ملاتړ لپاره يو.

### د مکميلن ملاتړ لاين (Macmillan Support Line)

موږ ترجمانان لرو نو تاسو کولی شئ زموږ سره په خپله ژبه خبرې وکړئ. يوازې موږ ته په انګليسي ژبه د هغې ژبې په هکله وواياست چې تاسو پرې خبرې کول غواړئ.

زموږ د مکميلن ملاتړ کرښې (Macmillan Support Line) متخصص سلاکاران کولی شي د طبي پوښتنو په پار درسره مرسته وکړي يا که چيرې تاسو د چا سره د خبرو کولو لپاره اړتيا لرئ نو د اوريدو لپاره حاضر دي. موږ کولی شو ستاسو د پيسو انديښنو په اړه هم خبرې وکړو او نور ګټور سازمانونه درته ور انديز کړو ترڅو درسره مرسته وکولی شي. وړيا، محرم تليفوني کرښه په اونۍ کې 7 ورځې، د سهار له 8 بجو څخه تر ماښام 8 بجو پورې خلاص وي. موږ ته په **0808 808 00 00** شميره باندې زنګ ووهئ.

### د مکميلن (Macmillan) ويب پاڼه

زموږ ويب پاڼه د سرطان په هکله په انګليسي ژبه ډېر معلومات لري. دلته [macmillan.org.uk/translations](https://macmillan.org.uk/translations) په نورو ژبو کې لا ډېر معلومات شته.

موږ ممکن ستاسو لپاره د ژباړې د خدماتو ترتيب هم برابر کړو. د هغه څه په اړه چې اړتيا ورته لرئ، موږ ته په [informationproductionteam@macmillan.org.uk](mailto:informationproductionteam@macmillan.org.uk) باندې برېښناليک واستوئ.

### د معلوماتو مرکزونه

زموږ د معلوماتو او ملاتړ مرکزونه په روغتونونو، کتابتونونو او د تليفون په مرکزونو کې موجود دي. د اړتيا وړ معلوماتو د تړلاسه کولو لپاره زموږ يو معلوماتي مرکز ته مراجعه وکړئ او مخامخ له يو چا سره خبرې وکړئ. خپل تر ټولو نږدې مرکز په [macmillan.org.uk/informationcentres](https://macmillan.org.uk/informationcentres) کې ومومئ يا موږ ته په **0808 808 00 00** شميره زنګ ووهئ.

### د ملاتړ محلي ګروپونه

د ملاتړ په ګروپ کې، تاسو کولا شئ له نورو هغو خلکو سره خبرې وکړئ چې له سرطان څخه اغېزمن شوي دي. ستاسې په سيمه کې د ملاتړو ډلو په اړه دلته [macmillan.org.uk/supportgroups](https://macmillan.org.uk/supportgroups) ومومئ يا له موږ سره په **0808 808 00 00** شميره اړيکه ونيسئ.

### د مکمیلن (Macmillan) آنلاین ټولنه

تاسو کولی شئ د سرطان څخه اغیزمنو نورو خلکو سره آنلاین په macmillan.org.uk/community کې هم خبرې وکړئ.

تاسو کولای شئ د ورځې یا شپې هر مهال دې ته لاسرسی ومومئ. تاسو کولای شئ خپلې تجربې شریکې کړئ، پوښتنې وکړئ، یا فقط د خلکو د پوستونو له لارې معلومات ولولئ.

## ستاسې په ژبه کې نور معلومات

موږ د دغو موضوعاتو په هکله ستاسو په ژبه کې معلومات لرو:

### د سرطان نښې او علایم

- د نښو او علایمو کارتونه

### که چیرې ستاسو د سرطان ناروغی تشخیص کیږي

- په انګلستان کې د سرطان یا کېنسر پاملرنه
- د کډوالو او پناه غوښتونکو خلکو لپاره روغتیا پالنه
- که چیرې ستاسو د سرطان ناروغی تشخیص کیږي

### د سرطان ډولونه

- د کولمو سرطان
- د سینې سرطان
- د رحم د خولې سرطان
- د سږو سرطان
- د پروستات سرطان

### د سرطان لپاره درملنه

- کیموتراپي
- رادیوتراپي
- سېپسېس او سرطان
- د سرطان د درملنې جانبي عوارض
- جراحي عملیات

### د سرطان سره ژوند کول

- کله چې تاسو سرطان ولرئ د ګټو ادعا کول
- د خوړلو ستونزې او سرطان
- سالم خوراک کول
- د لګښتونو سره مرسته وکړئ کله چې تاسو سرطان لرئ
- LGBTQ+ خلک او سرطان
- سترېیا (ستومانې) او سرطان

## د ژوند پای

- د ژوند پای

د دغو معلوماتو د کتلو لپاره، macmillan.org.uk/translations ته مراجعه وکړئ

د معلوماتو د پوهیدو لپاره د نورو ملاتړ لپاره،
macmillan.org.uk/understandinginformation ته لاړ شئ

## مأخذونه او مننې

دغه معلومات د مکمیلن سرطان د ملاتړ (Macmillan Cancer Support) د سرطان د معلوماتي پراختیا د ټیم په واسطه لیکل او تحریر شوي دي. دا د ژباړي شرکت لخوا ستاسو په ژبه ژباړل شوي.

شامل شوي معلومات زموږ د کتو د محتوا پر بنسټ دي چې زموږ په ویب پاڼه کې په انګلیسي ژبه شتون لري.

دا معلومات د اړوندو متخصصینو لخوا بیاکتل شوي او د مکمیلن (Macmillan) د کلینیکي تخصص مرکز غړو یا نورو لوړ پوړو کلینیکیانو یا متخصصینو لخوا تصویب شوي.

له هغو خلکو څخه هم ډېره مننه چې د سرطان له امله اغېزمن شوي دي چا چې د دغو معلوماتو بیاکتنه کړې ده.

زموږ ټول معلومات د غوره شته شواهدو پر اساس دي. د سرچینو په اړه د لا ډېرو معلوماتو لپاره له موږ سره په informationproductionteam@macmillan.org.uk ادرس اړیکه ټینګه کړئ.

**منځپانګه بیا کتل شوې: 2025**

**راتلونکي پلان شوي بیاکتنه: 2028**

MAC15139_Pashto_E05

موږ هره هڅه کوو ترڅو دا ډاډ ترلاسه کړو چې هغه معلومات چې موږ یې چمتو کوو دقیق او تر دې نیټې معلومات وي مګر دا باید ستاسو د وضعیت سره سم د مسلکي مشورې د بدیل په توګه ونه کارول شي. تر هغه ځایه چې د قانون لخوا اجازه ورکړل شوې، مکمیلن (Macmillan) په دې خپرونه کې د هر ډول معلوماتو د کارولو یا د دریمې ډلې معلوماتو یا په ویب کې د شامل شوو معلوماتو د کارونې مسئولیت په غاړه نه مني.

د مکمیلن© کېنسر ملاتړ 2025 (Macmillan Cancer Support ©)، په انګلستان او ویلز (261017)، سکاټلینډ (SC039907) او آئل آف مین (604) کې ثبت شوې خیریه موسسه. په شمالی ایرلینډ کې هم فعالیت کوي. د ضمانت په واسطه محدوده شوې کمپني، چې په انګلستان او ویلز کې په 2400969 کمپني شمېره ثبت شوې ده. آئیلز آف من د شرکت شمیره 4694F. راجستر شوی دفتر: 3rd Floor, Bronze Building, The Forge, 105 Sumner Street, London, SE1 9HZ VAT شمېره: 668265007

Trusted Information Creator

Patient Information Forum

# Claiming benefits when you have cancer: English

This information is about claiming benefits when you have cancer.

If you have any questions about this information, ask your doctor or nurse at the hospital where you are having treatment.

You can also call Macmillan Cancer Support on freephone **0808 808 00 00**, 7 days a week, 8am to 8pm. We have interpreters, so you can speak to us in your own language. When you call us, please tell us in English which language you need.

There is more cancer information in this language and other languages at [macmillan.org.uk/translations](https://macmillan.org.uk/translations)

This information is about:

- What are benefits?
- If you were not born in the UK
- If you have care or mobility needs
- If you cannot work or have a low income
- If you look after someone with cancer
- Help with housing costs
- If you are of pension age
- What to do next
- Getting the right care and support for you
- How Macmillan can help you
- More information in your language
- References and thanks

## What are benefits?

Benefits are payments from the government to people who need help with the cost of living. When you have cancer, you might be able to get benefits if you:

- are ill
- have a disability
- have a low income
- are looking after someone.

There are many different benefits. In this factsheet we explain some common ones.

## If you were not born in the UK

You may not be able to get some benefits if you:

- have come from another country to live or work in the UK
- are a person seeking asylum.

The rules can be hard to understand and can depend on which country you and your family are from. You can call Macmillan on **0808 808 00 00** and speak to one of our advisers for advice.

## If you have care or mobility needs

The benefits you can claim are different depending on where you live and if you are above or below the State Pension age. This age depends on when you were born. You can find out your State Pension age at gov.uk/state-pension-age

### For people living in England, Wales or Northern Ireland:

- **Personal Independence Payment** is for people under State Pension age who have problems with everyday tasks, getting around, or both. The problems are because of long-term health conditions or disability.
- **Attendance Allowance** is for people who are State Pension age or over who have personal care needs because of an illness or disability.

### For people living in Scotland:

- **Adult Disability Payment** is for people under State Pension age who have problems with everyday tasks, getting around, or both. The problems are because of long-term health conditions or disability.
- **Pension Age Disability Payment** is for people who are State Pension age or over who have personal care needs because of an illness or disability.

If the cancer cannot be cured, you may be able to apply for these benefits under special rules. These rules mean you will get the benefit quickly and at the highest amount. Your doctor or nurse can help you with this.

## If you cannot work or have a low income

- **Statutory Sick Pay** is for people who need to take time off from their job because they are ill. If you qualify for this, your employer must pay it to you each week. They will pay it for up to 28 weeks of illness.

- **Employment and Support Allowance** is for people under State Pension age who have an illness or disability that affects how much they can work. You may be able to get this benefit if you cannot work or can only do a small amount of work.
- If you do not earn much money or cannot work, you may be able to get **Universal Credit**. This will depend on where you live. The way to make a claim will depend on where you live. If you live in England, Scotland and Wales, visit gov.uk/universal-credit If you live in Northern Ireland, visit nidirect.gov.uk/universal-credit

## If you look after someone with cancer

If you look after someone with a lot of care needs, you may get:

- **Carer's Allowance** if you live in **England, Wales or Northern Ireland**
- **Carer Support Payment** if you live in **Scotland**.

You must be aged 16 or over. You must be caring for the person for at least 35 hours a week. You do not need to be related to them or living together. You may get this benefit even if you do some paid work.

- **Carer's Credit**. This does not give you any money. But it helps protect your right to a State Pension later in life. You must look after at least one person for 20 hours or more a week to get it.

## Help with housing costs

- If you can get **Universal Credit**, you may be able to get a payment to help with your rent or other housing costs.
- **Housing Benefit** can help you pay your rent if you have a low income and are State Pension age. It may also help if you are living in supported, sheltered or temporary housing.

## If you are of pension age

- **State Pension** is a regular payment you can get from the government when you reach a certain age. This age depends on when you were born. You can find out your State Pension age at gov.uk/state-pension-age
- **Pension Credit** is for people who have reached State Pension age and have a low income. It gives you an extra amount on top of your State Pension.

## What to do next

In this information, we have only talked about some of the benefits that are available. It is a good idea to talk to one of our advisers to find out more about benefits. You can call us free on **0808 808 00 00**.

You can find more information and apply for benefits online. Visit:

- gov.uk if you live in **England, Scotland or Wales**
- socialsecurity.gov.scot if you live in **Scotland**
- nidirect.gov.uk if you live in **Northern Ireland.**

## Getting the right care and support for you

If you have cancer and do not speak English, you may be worried that this will affect your cancer treatment and care. But your healthcare team should offer you care, support and information that meets your needs.

We know that sometimes people may face extra challenges in getting the right support. For example, if you work or have a family you might also have worries about money and transport costs. All of this can be stressful and hard to cope with.

## How Macmillan can help you

At Macmillan, we know how a cancer diagnosis can affect everything, and we are here to support you.

**Macmillan Support Line**
We have interpreters, so you can speak to us in your language. Just tell us, in English, the language you want to use.

Our expert advisers on the Macmillan Support Line can help with medical questions or be there to listen if you need someone to talk to. We can also talk to you about your money worries and recommend other useful organisations that can help. The free, confidential phone line is open 7 days a week, 8am to 8pm. Call us on **0808 808 00 00**.

**Macmillan website**
Our website has lots of information in English about cancer. There is also more information in other languages at macmillan.org.uk/translations

We may also be able to arrange translations just for you. Email informationproductionteam@macmillan.org.uk to tell us what you need.

**Information centres**
Our information and support centres are based in hospitals, libraries and mobile centres. Visit one to get the information you need and speak with someone face to face. Find your nearest centre at [macmillan.org.uk/informationcentres](https://www.macmillan.org.uk/informationcentres) or call us on **0808 808 00 00**.

**Local support groups**
At a support group, you can talk to other people affected by cancer. Find out about support groups in your area at [macmillan.org.uk/supportgroups](https://www.macmillan.org.uk/supportgroups) or call us on **0808 808 00 00**.

**Macmillan Online Community**
You can also talk to other people affected by cancer online at [macmillan.org.uk/community](https://www.macmillan.org.uk/community)

You can access it at any time of day or night. You can share your experiences, ask questions, or just read through people's posts.

## More information in your language

We have information in your language about these topics:

**Signs and symptoms of cancer**
- Signs and symptoms cards

**If you are diagnosed with cancer**
- Cancer care in the UK
- Healthcare for refugees and people seeking asylum
- If you are diagnosed with cancer

**Types of cancer**
- Bowel cancer
- Breast cancer
- Cervical cancer
- Lung cancer
- Prostate cancer

**Treatment for cancer**
- Chemotherapy
- Radiotherapy
- Sepsis and cancer
- Side effects of cancer treatment
- Surgery

**Living with cancer**

- Claiming benefits when you have cancer
- Eating problems and cancer
- Healthy eating
- Help with costs when you have cancer
- LGBTQ+ people and cancer
- Tiredness (fatigue) and cancer

**End of life**

- End of life

To see this information, go to macmillan.org.uk/translations

For more support to understand information, go to macmillan.org.uk/understandinginformation

## References and thanks

This information has been written and edited by Macmillan Cancer Support's Cancer Information Development team. It has been translated into this language by a translation company.

The information included is based on our benefits content available in English on our website.

This information has been reviewed by relevant experts and approved by members of Macmillan's Centre of Clinical Expertise or other senior clinicians or experts.

Thanks also to the people affected by cancer who reviewed this information.

All our information is based on the best evidence available. For more information about the sources we use, please contact us at informationproductionteam@macmillan.org.uk

**Content reviewed: 2025**

**Next planned review: 2028**

MAC15139_English_E05

We make every effort to ensure that the information we provide is accurate and up-to-date but it should not be relied upon as a substitute for specialist professional advice tailored to your situation. So far as is permitted by law, Macmillan does not accept liability in relation to the use of any information contained in this publication or third-party information or websites included or referred to in it.

© Macmillan Cancer Support 2025, registered charity in England and Wales (261017), Scotland (SC039907) and the Isle of Man (604). Also operating in Northern Ireland. A company limited by guarantee, registered in England and Wales company number 2400969. Isle of Man company number 4694F. Registered office: 3rd Floor, Bronze Building, The Forge, 105 Sumner Street, London, SE1 9HZ. VAT no: 668265007

Trusted Information Creator

Patient Information Forum